مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۰۳/۱۵

# کرونا

خدايه څه آفت نازل سو پر ښارونو د ژونديو
د ناورين ابۍ سوه لنګه رپيني کاړي د ښاديو
نن د سلو د مرګ واورو سبا کړيکه سي د زرو
ته وا ټول يې غلميان دي کسات اخلي د پېړيو
چي هر څوک د ځان په غم دي که محشر نه دی نو څه دی
زلمي ورک دي له سپين ږيرو بوډا تښتي له زلميو
په خپل کورکي مساپر يم عزيزانو ته يم ترۍ
لار مي بنده د زامنو شوخي نسته د لمسيو
ته وا ټولو دی ليدلی عزرابيل په خپلو سترګو
بازارونه تش له ماله کوڅې تشي له سړيو
چي پرون وه لاس تر غاړه نن ډارېږي يو له بله
نه ياران سره ټولېږي نه پيالې اخلي د ميو
نن اسمان راته اغوستي د جګړې د ورځې زغري
ګواکي موږ وه لږ سوځلي په لمبو د دښمنيو
نه د ګلو رنګيني سته نه نسيم پاشي عطرونه
شګوفې بدرنګه ښکاري ساه ختلې له پټيو
نه سهار زېرې راوړي نه لمن ډکه د مشکو
نه رنګين ماښام دی ښکلی په آواز د چنچنيو
د رباب له هره تاره د «کرونا» آواز راوزي
له مطربه نغمې هيري اثر نسته د مستيو
جهاني لا دي راوزي تر قلم د غزل توري
نن به يو سبا به نه يو پر وطن د اوسنيو.

د ۲۰۲۰ کال د مارچ دیارلسمه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ